عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۱۱/۰۵

# شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه

## پنځم فصل

### يوپنځوسمه برخه

**کندهار:**

د کندهار د خلکو وضع د سردار غلام حيدر خان د حکومت په وخت کي بهتره نه بلکه د سردارکهندل خان تر وخت نوره هم خرابه سوه. د اروپايي هيات له ياداشتونو ښکاري چي سردار غلام حيدر خان هم ډېر ظالم او هم، په اداري او مالي لحاظ، فاسد سړی وو. ډاکټر بيليو، چي د ميجر لمسډن سره، د کندهار په هيات کي ملګری وو، د سردار غلام حيدر خان د وخت د سترګو ليدلو حالاتو په باب ځيني داسي کيسي کوي چي د منلو وړنه دي او تقريبا هغه ته ورته کيسي دي چي آرتر کانلي، فيريه او نورو ليکوالانو او سياحانو د سردارکهندل خان د حکومت په باره کي کړي دي.

لمسډن او دهغه ورسره هيات په داسي وخت کي کندهار ته ورسېدی چي په ښار کي ډېره سخته قحطي وه. بيليو ليکي چي د کندهار د خلکو کړاو تر اندازې زيات وو. داسي آوازه وه چي دا قحطي اصلا د هغه ښار سودخورو جوړه کړې ده چي غنم يي د ګرانی لپاره په ګودامونو کي ذخيره کړي دي. ويل کيږي چي سردار غلام حيدر خان هم په دغه سودخوري کي برخه لري. د غزني او سبزوار ( شينډنډ ج) ښځه غنم، په ارزانه بيه واردوي او دلته يي د قحطی په بيه خرڅوي... سردار خپلو عسکرو ته شپاړس سيره اوړه په يوه روپي ورکوي او پيسي د هغوی له تنخوا ښځه کموي. مګر په ښار کي يي، د سودخورو په بيه، دوه سېره په يوه روپي ورکوي. غريبان او نېسمتن خلک په دغه بيه اوړه نه سي اخيستلای او ښو مياشتي کيږي چي په شپيشتو، شفتلو، ريښو او د توت په پاڼو، چي معمولا يي اومه خوري، ګوزاره کوي. (بيليو ص ص ۲۲۹-۲۳۰)

بيليو ليکي چي تقريباً يوه هفته يا لس ورځي مخکي د کندهار يو شته من سوداګر، چي په قام ترين وو، ناڅاپه وفات سو. د هغه يوه نهه کلنه لور او ۱۵۰۰۰ زره نغدي روپۍ، اته قلبي مځکه، چي شپږ سوه روپۍ ارزښت يي درلود، آسونه، څاروي او په تجارت کي بندي روپۍ پاته سوې. کله چي د دې سوداګر د مرګ خبر خپور سو نو د سردار غلام حيدر خان شپږ اووه تنه عسکر د هغه کورته ورننوتل؛ د هغه سوداګر شته مني يي واخيستله او ويل يي چي دوی هم په قام ترين دي او د سوداګر په ميراث کي حق لري. ماشومه وارخطا سوه او له خپل يوه يا دوو نوکرانو سره د خپلي مورنی انا کورته، چي په يوه بله محله کي اوسېده، ولاړه. عسکر وروپسي ورغلل او ويل يي چي له نجلی سره پنځه لس زره روپۍ دي هغه بايد دوی ته ورکړي. د نجلی انا او نيکه پر سردار باندي عرض وکړ او له هغه ښځه يي د حفاظت او عدالت غوښتنه وکړه. د سردار عدالت دوی حيران کړل؛ ځکه چي هغه سمدستي په نجلی پسي سړي ولېږل او ويل يي چي له هغي سره پخپله واده کوي. نجلی په هماغه ورځ په يوه جوپان کي د سردار حرم سرای ته يوړل سوه؛ مېلمستياوي جوړي سوې، ميوزيکونه ږغېدل او د توپکو او د توپونو ډزي پيل سوې. سردار د نجلی د ټولو شته منيو کنټرول واخيست او د هغي نيکه او انا يي کورته رخصت کړل چي دوستان يي د دومره لوی مقام سره د دوستی کولو مبارکي ورته ووايي. (هغه کتاب ص ۲۵۹)

بل ځای ليکي چي دوی ورځي مخکي ښو تنو سوداګرو د ميمني او هرات له لاري د اويا اتيا آسونو قافله د شکارپور او سند بازارونو ته روانه کړې وه. سردار خپل ميرآخور ته وويل چي د ده لپاره ښه آسونه انتخاب کړي. هغه هم شل آسونه پکښي خوښ کړل. سردار په هغو شلو کي شپږ انتخاب کړل؛ او درباريانو ته يي مخ را واړاوه او ويل يي دا ډېنګر او ناروغ حيوانان، چي هسي رنګونه يي د آسونو دي، په ښو ورځخه واخلم. ميرآخور وويل چي هر آس په پنځه دېرش روپۍ. خو څرنګه چي سردار په سخاوت کي مشهور دی نو که پنځه څلوېښت روپۍ ورکړي بس يي دي. سردار د خپل سخاوت ښځه کار واخيست او د هر آس لپاره يي پنځوس روپۍ ورته ومنلې. د آسونو سوداګرو په خدای او په قران سوګندونه يادول چي په دغه بيه خو دوی اخيستلی نه دي او دوی به تباه سي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

سردار د چا خبره نه اورېده. سوداګرو هغه آسونه په شکار پورکي هر يو له درې نيم سوه څخه تر څلور سوه روپيو پورې خرڅ کړي ول. خو سردار يوازې په پنځوس روپۍ اخيستي وه. (هغه کتاب ص ص ۲۶۶-۶۷)

بيليو ليکي چې يو کال مخکې د شکارپور دروازې څخه د باندې په يوه کوچني کلي کې يو شته من سوداګر وفات سوی وو. له ده څخه دوولس ديارلس زره نغدې روپۍ او جواهرات او ښې ډيرې مځکې او شه مني پاته سوې وه. د سوداګر ورونو د هغه له ځواني کونډې څخه وغوښتل چې په دوی کې له يوه سره واده وکړي. کونډې د دوی غوښتنه ونه منله. د خپل پلار کورته ولاړه او د يوه ځوان مُلا سره يې واده وکړ. مدعيانو مُلا په سپينه ورځ په چړو ټوکر ټوکر کړ او پخپله وتښتېدل. سردار د هغوی د کورنۍ غړي بنديان کړل. هغوی دوولس سوه روپۍ جريمه تحويل کړل او بيرته خوشې سول. څو ورځې وروسته د سوداګر کونډې سردار ته عرض وکړ او د عدالت غوښتنه يې وکړه. سردار هغه وښکنځله او ورته وې ويل چې د پښتني عنعناتو په خلاف يې داسې کار کړی دی چې ټولې کورنۍ ته يې شرم اړولی او پخپله خوښه يې مېړه انتخاب کړی دی. د هغې ټوله شته مني يې پخپله ورڅخه غصب کړه، او ځان يې په شته من کړ. (هغه کتاب ص ص ۲۸۱-۸۲)

سردار له خپلو پوځيانو سره هم بېحده زيات ظلمونه کول. د ده د ظلمونو له لاسه هره ورځ عسکر تښتېدل. يو شمېر يې ونيول او په ډېره بېرحمانه توګه يې د ارګ مخې ته غرغره کړل. يو شمېر کسانو چې وسلې يې ورسره تښتولې وې او مقاومت يې کاوه. هغوی يې ټول په جنګ کې ووژل. سرونه يې سردار ته راوړل. سردار د ټولو سرونه په چارسو کې وځړول؛ تر څو چې وراسته سول او له پيژندلو ووتل. (هغه کتاب ص ۳۳۴)

په کندهار کې د برتانوي هيات د اوسېدلو په لومړيو شپو ورځو کې يوه پيښه منځته راغله چې يادول يې بې ګټې نه دي. بيليو وايي چې يو سړی، د ضروري او عاجل رپوټ په پلمه د سردار غلام حيدر خان تر ډېرو پيره دارانو تير سوی وو او بالاخره د هغه د خوب د خونې پيره دارانو را ګرځولی وو. په تلاښی کې معلوه سوه چې هغه له ځان سره توره درلوده. سردار هغه سړي ته ويلي وه چې که دې حال ووايه خوشې کوم دې او که دې ونه وايه نو سهار به دې غرغره کم. سړي ورته وويل چې د سردارکهندل خان مشر زوی سردار محمد صديق خان د هغه د وژلو وظيفه ورکړې وه.

محمد صديق خان سهار وختي په خپل کور کې ونيول سو او په سياه چال کې واچول سو. څه وخت وروسته د امير دوست محمدخان له امر سره سم کابل ته ولېږل سو او امير په بالاحصار کې نظر بند کړ. څه باندې يو کال يې هلته وساتی او بالاخره سردار محمد صديق خان امير ته ډيرې زارۍ وکړې چې کندهار ته د تللو اجازه ورکړي. امير دوست محمد خان هم د هغه غوښتنه ومنله او کندهار ته د لېږلو څخه يوه شپه مخکې يې د مخه ښې مېلمستيا ورته وکړه. سردار د ډوډۍ له خوړلو څخه څو ساعته وروسته وفات سو. (هغه کتاب ص ص ۲۳۰-۳۱)

بيليو له کندهار څخه هندوستان ته د بيرته ستنېدلو په لاره کې څو ورځې په قلات کې تم سو او وايي چې د قلات له حاکم فتح محمد خان څخه، چې د سردار محمد اکبرخان زوی وو، خلک خوشاله وه. هغه ډېر مؤدب او رسېدلی ځوان بولي، چې د نويو معلوماتو تر لاسه کولو ته ډېر لېواله وو. بيليو وايي هغه به زموږ معلوماتو ته په ډېره علاقه غوږ نيولی وو او د ښېلو ښېلو تاريخي او علمي موضوعاتو په باره کې به يې پوښتنې کولې. خو کله چې مې يوه ورځ ورته وويل چې مځکه ګردی ده او د لمر پر شاوخوا راګرځي نو هغه زما دې خبرې هک پک کړ. هغه دونه حيران سو او زموږ پر معلوماتو او اطلاعاتو باندې دونه بې باوره سو چې وروسته يې زموږ هيڅ خبره زړه ته نه لوېده. (هغه کتاب ص ۳۷)

د لمسډن هيات، هندوستان ته په لاره کې، په غزني کې هم تم سو. دوی د غزني له حاکم سردار شېرعلي خان سره ځکه ونه ليدل چې هغه، په دغه وخت کې، کابل ته تللی وو. که څه هم چې دوی په غزني کې دونه معطل سوي نه دي چې د هغه ښار د عمومي وضع په باره کې يې مفصل معلومات ورکړي وای خو له يوې کيسې څخه يې معلومېږي چې په غزني کې ظلم او بې عدالتي انتهی درجې ته رسېدلې وه. بيليو وايي کله چې موږ غزني ته ورسېدلو نو خبر سولو چې شپږ تنه عسکر ځکه په توپ کې الوزول سوي دي چې د خپلو تنخواوو غوښتنه يې کړې وه چې اته نهه مياشتې ځنډېدلې وه. د غزني مامورينو ويل چې دې سزا لکه جادو داسې کار وکړ. تر دې وروسته هيڅا بيا د تنخوا ږغ نه دی پورته کړی او عسکر خپلو وظيفو ته ستانه سول. عسکرو خپل پخوانی کار، چې د ښار او اطرافو د خلکو لوټل وه پيل کړ او خپل ورځنې ضروريات يې پوره کول. (بيليو ص ص ۴۶۷- ۶۸)

لمسډن هم د سردار غلام حيدر خان د حکومت د ظلمونو او بې عدالتيو بيان کوي. داسې ښکاري چې د سردار له ظلم څخه هيڅ طبقه فارغه نه وه. لمسډن ليکي چې پوځيانو ته ډيرې سختې سزاوې ورکول کېدلې. د هغوی تنخواوې به څو مياشتې وځنډېدلې او بالاخره به يې ورڅخه وخوړې. له عسکرو څخه به يې جامې وايستلې، پر مخې به يې پرې ايستل او پر ملا باندې به يې تر هغه وخته په لرګيو وهل چې يا به بېسده او يا به تر وهلو لاندې مړه سول. که به عسکر وتښتېدی نو د هغه د کورنۍ غړي بنديانېدل او د غلامانو په توګه خرڅول کېدل؛ او که به تښتېدلی عسکر ونيول سو نو يا به په ځنځيرونو کې پروت وو او يا به يې وواژه. که چا د حکومت توپک خرڅ کړی وای هغه به غرغره کېدی. خلکو له ويرې ښورښ نه کاوه؛ ځکه چې په لږ ګومان به خلک سمدستي اعدامېدل او د محاکمه کېدلو او عدالت هيڅ درک نه وو. (لمسډن ص ۱۶۳)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سردار د پیسو د ترلاسه کولو اوذخیرو د ډکولو په لاره کې، چې تنده یې په هیڅ توګه د ماتېدلو نه وه، هیڅ ډول سرحد نه پېژاند. لمسډن وایی چې د ۱۸۵۸ کال د جنوري پر ځلېرویشتمه سردار، په لسو میاشتو کې د پنځم ځل لپاره، د کندهار د روپیو ارزښت نیمایي ته را ټیټ کړ. له ښاریانو څخه یې ټولې سکې په نیمه واخیستلې او په څو ورځو کې یې بیرته هغه سکې پر خلکو په پخوانۍ بیه وپلورلې. هم په کندهار او هم په شاوخوا کې د نارضایيت نښانې لیده کېدلې. (هغه کتاب ص ۲۳۲)
لمسډن وایي چې په همدغو شپو ورځو کې په ښار کې یوه بلوا جوړه سوه او علت یې داوو چې ویل کېدله یوه هندو هلک کلمه ویلې او مسلمان سوی دی. ملایانو سمدستي حکم وکړ چې هغه باید سنت سي. د هلک مور او پلار او یو شمېر نور هندوان هغه جومات ته ورغلل چې هلک د ملایانو په لاس کي وو. ملایانو د هلک د ورکولو څخه انکار وکړ او هندوانو سردار ته شکایت وکړ. د سردار عسکرو هلک ورسره بوت او بندي یې کړ. هندوانو سردار ته ۳۰۰۰ روپۍ رشوت ورکړ او سردار هغه هلک په شپه کي خوشي کړ. هندوانو خپل زوی په هغه شپه له ښاره وایست او سند ته یې بوت. ملایان د بندیخانې پر ساتونکو باندي سخت په غوسه سول خو ډېر ژر خبر سول چې سردار د رشوت په بدل کي هلک خوشي کړی دی نو د ملایانو ټوله غوسه سردار ته متوجه سوه. په ښار کي څه باندي پنځه سوه ملایان او طالبان را ټول سول او د قاضي پر کور یې حمله وکړه. قاضي ورڅخه وتښتېدی او دوی پر قاضي او سردار باندي د کفر حکم وکړ. یو ځل خرقې شریفي ته ولاړل او بیا د حضرت جي بابا مزار ته ولاړل او هلته یې بیرغ پورته کړ او د سردار پر ضد یې د جهاد اعلان وکړ. څو ورځې وروسته سردار د بلوا مشر اخندزاده ته وویل چې که مشران دا حرکت ختم کړي نو ډیري زیاتي پیسې به ورکړي او له امیر څخه به مځکي او خلعتونه ورته واخلي؛ او په دې توګه یې مشران بې اتفاقه کړل.
لمسډن لیکي چې د مارچ پر پنځه ویشتمه سردار کابل ته روان سو او سردار فتح محمدخان ته یې د کندهار حکومت وسپاره. ضمنا یې هغه اخندان چې د بلوا مشرتوب یې کاوه او د انعامونو وعده یې ورسره کړې وه کابل ته روان کړل. هغه صاحب منصب چې کابل ته د دوي د رسولو وظیفه یې ورکړې وه، لږ وخت وروسته بیرته کندهار ته ستون سو او کله چې پوښتنه ورڅخه وسوه چې څرنګه ژر را ستون سوې ده وویل چې هغه ملایان په لاره کي، په خپل کرامت، ور څخه ورک سول او بیا یې ونه لیدل. ده وویل چې هغوی به نه بیا ستونزي جوړې کړي او نه به انعامونه وغواړي. (لمسډن ص ص ۲۳۳ -۳۷)
د لمسډن هیات، د اپرېل په نیمایی کي له کندهار څخه د قلات، غزني او لوګر پر لار بیرته هندوستان ته سو. د دوی له خاطراتو څخه داسي څرګندیږي چې یوازي په کابل او د کابل په شاوخوا کي، چې د امیردوست محمدخان تر مستقیمي اداري لاندي سیمي وې، عدالت او امنیت ټینګ وو؛ نور نو د هیواد په هره برخه کي والیانو او حاکمانو، چې زیاتره د امیر زامن او یا د کورنۍ غړي وه، له خلکو سره هغه څه کول چې زړه یې غوښتل.
سردار غلام حیدر خان هم، کابل ته د رسېدلو څخه وروسته، ډېر وخت ژوندی پاته نه سو. د لسمډن هیات ایله له غزني څخه یو منزل لیري سوی وو او د سواره په نوم علاقه کي یې کمپ جوړ کړی وو چې د جون پر لومړۍ نېټه له کابل څخه یو ایل چې ورغی او د سردار غلام حیدر خان له خوا یې ښه ډېر قیمتي سوغاتونه ورته راوړي وه. ایل چې ډاکټر بیلیو ته وویل چې سردار سلامونه ویل او دا چې ستاسي سره د خدای په امانۍ په وخت کي په کندهار کي نه وو خواشیني یې څرګندوله. ایل چې وویل چې سردار ډېر سخت ناروغ وو او د کابل د طبیبانو او حکیمانو په لاس کي وو. هغه له سختي تبي څخه شکایت کاوه او ویل کېدله چې د میوو په خوړلو او شرابو په چښلو کي د سخت افراط له امله ناروغ سوی دی. (بیلیو ص ۴۶۳)
سردار له دې څخه زیات وکم یوه میاشت وروسته په کابل کي، د نهه دېرشو کالو په عمر وفات سو. که په کندهار کي د سردار غلام حیدرخان څه باندي یونیم کال حکومت ته یو نظر واچوو نو ویلای سو چې دې سردار پرته د پیسو له ټولولو بل هیڅ کار نه درلود او پیسې یې په هره ناروا طریقه جمع کولې. هغه د اته دېرشو یا نهه دېرشو کالو په عمر، چې ډېر سخت ناروغ وو، او شپږ میاشتي نور یې ژوند ونه کړ، یوه نهه کلنه نجلۍ، د هغې د جایدادونو او پیسو د غصبولو په منظور په نکاح کړه. لمسډن په خپلو خاطراتو کي لیکي: « په کندهار کي، د ولیعهد د روغتیا مسله د اندېښنې وړ وه او له هر چا سره یې تشویش پیدا کړی وو.ډاکټر بیلیو ویل چې د هغه روغتیایی حالت ډېر خطرناک دی او هره ورځ تر بلې خرابیږي، او سوړ موسم ډېر بد ورباندي لګیږي. سردار فیصله کړې وه چې کابل ته ولاړ سي نه یوازي د هوا د تبدیلی په خاطر بلکه غواړي چې له امیر څخه د غلجیو د سیمو د یوې ټاکلي برخي د مالیاتو ټولولو قرارداد تر لاسه کړي. مګر هغه نه سوای کولای چې، تر پسرلي پوري، کابل ته سفر وکړي. نو سردار د کال په سر کي د کندهار له خلکو څخه، په جبر، د پیسو اخیستلو پلان جوړ کړ. د ۱۸۵۸ کال د جنوري پر ځلېرویشتمه یې، د تېرکال د سپټمبر راهیسي، د پنځم ځل لپاره، له خلکو څخه مِسي سکې بیا هم په نیم قیمت واخیستلې او په څو هفتو کي یې بیرته هغه سکې په بشپړ قیمت ورباندي وپلورلې. طبیعي خبره ده چې هم په ښار او هم له ښار څخه دباندي خلک ناراض ول. » (لمسډن ص ۲۳۲)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سردار غلام حیدر خان دومره جدي ناروغ وو او د نقرص له دردونو څخه کرۍ ورځ او شپه کړېدی او حتما به یي نوري ناروغی هم درلودلي، ځکه چي وایي له چاغی څخه پر لاري نه سو تللای او نفس تنګي یي هم درلوده، له دې وروستي ظالمانه عمل څخه وروسته یی ایله شپږ میاشتي نور ژوند وکړ.
له دی څخه ښکاري چي که امیر دوست محمدخان عدالت او امنیت قایم کړی وو نو هغه یوازي په هغو سیمو کي وو چي د ده تر مستقیم کنټرول لاندي وې. حتی په کندهار کي یې، چي د ده د قدرت مرکز وو، عدالت نه سوای ټینګولای. او که چیري سردار غلام حیدرخان وفات سوی نه وای او د پلار له وفات څخه وروسته یي د ټول افغانستان کنټرول اخیستی وای نو لا خدای خبر دی چي پر وطن به یي څه حالات راوستلي وای.

نوربیا

## د امیر دوست محمد خان د یو موټی هیواد د جوړولو پروګرام:

عبدالباري جهاني

[شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه، پنځوسمه برخه]

یادونه: د ښاغلی جهانی د لیکنو آرشیف، تاسو کولای شی د دی لیکني ټولي برخې دلته ولولی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ